# زما څخه يو آيت هم - خلکو - ته ورسوئ او د بني اسرائيلو په اړه خبرې وکړئ - هغه پېښې چې هغوی ورسره مخ شوي دي - پدې کې کومه ملامتيا نشته، او چا چې پر ما په قصدي توګه دروغ وويل، نو د ځان لپاره دې په اور کې د ناستې ځای وټاکي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «زما څخه يو آيت هم - خلکو - ته ورسوئ او د بني اسرائيلو په اړه خبرې وکړئ - هغه پېښې چې هغوی ورسره مخ شوي دي - پدې کې کومه ملامتيا نشته، او چا چې پر ما په قصدي توګه دروغ وويل، نو د ځان لپاره دې په اور کې د ناستې ځای وټاکي».
[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کوي چې د هغه لخوا دې خلکو ته د کتاب او سنت علم ورسول شي، که لږ هم وي لکه د قرآن يو آيت يا يو حديث، پدې شرط چې رسوونکی خپله پر هغه څه پوه شي چې خلکو ته يې رسوي او بلنه ورته کوي. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم واضحه کړه چې پدې کې کوم باک نشته چې د بني اسرائيلو په حق کې د هغه څه په اړه وغږيږئ چې هغوی ته پېښ شوي دي پدې شرط چې زمونږ د شريعت سره په ټکر کې نه وي. بيا يې پر هغه د دروغ ويلو په اړه خبرداری ورکړ، او هغه څوک چې په قصدي توګه پر هغه دروغ ووايي، نو د ځان لپاره دې په اور کې ځای ونيسي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3686